# په هنګري کې د پناه غوښتنې پروسه

**د ورځې وروستني مالومات: ۱۶فبروري ۲۰۲۳**

په هنګري کې د پناه غوښتنې(دکډوالو وضعیت) د څرنګوالي په اړه اړوند مالومات
دلته وړاندې شوي مقررات د دسمبر تر 31، 2023 پورې د اعتبار وړ دي
که تاسو د اوکراین له جګړې څخه تښتېدلي یاست، مختلف مقررات په تاسو پلي کیږي، نو دا مالومات پانه ستاسو لپاره نه دي.
مهرباني وکړئ زموږ ویب پانه وګورئ چیرې چې تاسو کولی شي [د هلسنکي کمیټي وبپ پاڼي https://helsinki.hu/ukr](https://helsinki.hu/ukr)
د اوکراین څخه د کډوالو لپاره د مقرراتو په اړه مالومات ترلاسه کړی.

**څوک کولای شي د پناه غوښتنه وکړي؟**

پناه غوښتنه په دې معنا ده چې یو څوک د خپل اصلي هیواد نه پرته، د بل هیواد ساتنې ته اړتیا لري، له همدې امله دې ته اړتیا ده، ځکه چې اصلي هیواد نشي کولی هغه د ځورونې، شکنجې یا د بشري حقونو د جدي سرغړونو څخه وساتي.

که چیرې ځینې شرایط پوره شي، تاسو ممکن د پناه غوښتنې پروسې په پایله کې د دوو ډولونو څخه یو ډول خوندیتوب تر لاسه کړي، کله چې تاسو د پناه غوښتنه کوئ، د مهاجرت عمومي اداري دا ګوري چې آیا تاسو د دې دوو حالتونو څخه یو مستحق یاست که نه، بیا ستاسو په اړه پریکړه کیږي.

**1- تاسو کولی شئ د پناه غوښتنه وکړئ او د کډوال په توګه ومنل شئ.** البته، که تاسو معتبر دلیلونه لرئ، د بیلګې په توګه، د نژاد، مذهب، ملیت، سیاسي تړاو یا د یوې ځانګړې ټولنیزې ډلې سره تړاو، چې تاسو په خپل هیواد کې ځورول شوي.

دا ډول سرغړونې د پورتنیو ذکر شوي دلایلو له مخې د بشري حقونو څخه جدي سرغړونه ده. معمولاً ځورونه کیدای شي شکنجې، غیر انساني سپکاوي،فزیکي یا جنسي تاوتریخوالي یا جدي تبعیض په کې شامل وي.

د توجیه شوي ویره معنی دا ده چې د پناه غوښتنې چارواکي دا احتمال مني (یعني پرته له شکه یې ثابتولي) شي که هغه کور ته راستون شي نو هغه به د تاوتریخوالي قرباني شي. دا د مثال په توګه، د پناه غوښتنې په مرکې کې ستاسو د بیانونو یا کوم بل مناسب شواهد په واسطه ملاتړ کیدی شي.

تاسو کیدي شئ د یوې ځانګړي ټولنیزې ډلې کټګورۍ پورې اړه ولرئ، که چیرې تاسو د تبعیض تجربي لري د بیلګې په توګه، د ښځینه جنسیت پیژندنې له امله یا د جنسي تمایل د بیلګې په توګه( نارینه دی او د نارینه سره تمایل لري) یا د کوم بل ځانګړتیا له امله، هغه څه چې تاسو نشئ بدلولی (یا تاسو نه غواړئ چې پټ وساتي).

**2- تاسو کولی شئ د پناه غوښتنه وکړئ او د دې کړنلارې په پایله کې خوندیتوب ترلاسه کړئ**
که چیرې رینښتیني خطر شتون ولري چې تاسو به په خپل اصلي هیواد کې له لاندې زیانونو څخه یو سره مخ شئ: د مرګ سزا، شکنجه، غیر انساني یا سپکاوی چلند یا مجازات، چې د وسله والې جګړې په شرایطو کې کارول کیږي (د بیلګې په توګه په جګړه کې) بې توپیره تاوتریخوالی چې ستاسو فزیکي بشپړتیا یا ژوند ته جدي ګواښ کوي( مګر د نژاد، مذهب،ملیت، سیاسي نظر یا د یوې ځانګړې ټولنیزې سره تړاو له امله نه)

که د پورتنیو توضیحاتو پر بنسټ، تاسو فکر کوئ چې تاسو د مهاجر یا خوندي شخص په توګه منل کیدای شئ، تاسو کولی شئ د پناه غوښتنه وکړئ.

.

**څنګه کولای شو په هنګري کې د پناه غوښتنه وکړو؟**

**۱- که زه په هنګري کې یم ایا زه د پناه غوښتنه کولای شم؟**

تاسو کولی شئ په **هنګري** کې د پناه غوښتنه وکړئ، **مګر یوازې په دې حالت** که چیرې تاسو:

**- د محافظت شوي** یا:

**- د کډوال پيژندل شوي** (د 18 کالو څخه کم عمر) **ماشوم**

**- یا د محافظت شوي یا کډوال پيژندل شوي ماشوم مور او پلار یا قانوني استازی**

**- یا د محافظت شوي یا د کډوال پيژندل شوي** (میره یا میرمن) خاوند وي، که دوی هنګري ته د ننوتلو دمخه واده کړی وي.
**- که تاسو په قانوني توګه** هنګري ته راغلي یاست، د بیلګې په توګه د اعتبار وړ سفري اسنادو او اړینو اسنادو سره، لکه ویزه، او تاسو اوس د قانون له مخې محاکمه کیږي، ستاسو د نیولو امر صادر شوی
کوم چې ستاسو شخصي آزادي محدودوي( د بیلګې په توګه توقیف د جرمي نظارت، زندان )یا د جرم د ترسره کولو له امله (په توقیف کې، زندان کې) یا د اخراج لپاره د بهرنیو پولیسو په توقیف کې یاست.

که تاسو په قانوني توګه په هنګري کې اوسیږئ، مګر د پورتنیو کټګوریو سره تړاو نه لرئ، تاسو بیا هم په هنګري کې د پناه غوښتنه کولی شئ، ځکه چې دا د هنګري د محکمې د پریکړو سره سم ممکن دی. پدې حالت کې، ځانګړي قانوني کړنلارې اړین دي، نو مهرب دا وړاندیز کوو چې تاسو د هنګري د هیلسینکي کمیټې څخه مرسته وغواړئ ترڅو تاسو ته پدې برخه کې استازیتوب او قانوني مرستې چمتو کړي. لاندې زمونږ د اړیکو توضیحات.
(email: helsinki@helsinki.hu, telefonszám: + 36 1 321 4323)

په نورو ټولو قضیو کې (د مثال په توګه که په هنګري کې ستاسو پاتې کیدل قانوني نه وي)، تاسو نشئ کولی په هنګري کې د پناه غوښتنه وکړئ (د مثال په توګه که ستاسو د هنګري د اوسیدو اجازه پای ته رسیدلې وي مګر تاسو ویره لرئ چې خپل اصلي هیواد ته بیرته ستانه شئ) که تاسو د پورتنیو اشخاصو ګروپ سره تړاو نه لرئ، مګر غواړئ په هنګري کې د پناه غوښتنه وکړئ، مهرباني وکړئ د معلوماتو 2 ټکي وګورئ.

**زه څنګه کولی شم د پناه غوښتنه وکړم؟**

د پناه غوښتنې غوښتنلیک باید د مهاجرت او مهاجرینو د ریاست د کاري ساعتونو په ترڅ کې **په شخصی دول، په شفاهي یا لیکلي بڼه** وسپارل شي.

د پناه غوښتنې د اداري نوم: د مهاجرت ملي اداره، د مهاجرینو عمومي ریاست د پناه غوښتنې څانګه.
دلته شتون لري. ویب پاڼه دلته Budapest, Budafoki út 60 پته: 1117

**۲- ایا زه په هنګري کې د پناه غوښتنه کولای شم که زه په هنګري کې نه یم؟**

هو، تاسو کولی شئ لومړي خپل اسناد په صربیا یا اوکراین کې د هنګري سفارت ته وړاندې کړئ. دا پروسه وړیا ده، د پیسو ورکولو لپاره هیڅ فیس نشته. که تاسو په دې پروسه کې مثبت ځواب ترلاسه کړئ، د هنګري حکومت به تاسو ته اجازه درکړي چې د هنګري خاورې ته ننوځې. هنګري ته له ننوتلو وروسته سمدستي د پناه غوښتنه وکړئ.
تاسو کولی شئ دا پروسه دلته وګورئ.

**۱-د هنګري سفارت سره اړیکه ونیسئ** (یا په اوکراین، کیيف، یا په سربیا، بلګراد کې)، چیرې چې تاسو کولی شئ پروسیجر پیل کړئ او په دې ځای کې **د ملاقات غوښتنه وکړئ** او **"د ارادې او تصمیم " په نوم یو سند وسپارئ.**

- تاسو کولی شئ په کیيف کې د سفارت د اړیکو توضیحات ویب پاڼې دلته او په بلګراد کې د اړیکو توضیحات ویب پاڼې دلته ووګورئ.
مهرباني وکړئ. په یاد وسپارئ چې دا ممکن څو میاشتې وخت ونیسي چې سفارت تاسو ته د ملاقات وخت درکړي.
۲- وروسته له دې چې تاسو د سفارت څخه د ملاقات وخت ترلاسه کړئ، **تاسو باید یو سند ډک کړئ** چې ( "د ارادې اعلامیه" نومیږي)

**-** د غوښتنلیک فورمې د مهاجرت ریاست په ویب پاڼه کې شتون لري د غوښتنلیک فورمې:

**-** په لنډه توګه خپل دلایل په دې سند کې تاسو باید تشریح کړې چې ولې غواړې هنګرې هیواد ته راشې او دلته د کډوالو په توګه ژوند وکړې، او د اصلي هیواد پرېښودو لاملونه تشریح کړې.

**-** که تاسو د خپلې کیس د ملاتړ لپاره کوم شواهد لرئ (د بېلګې په توګه عکسونه، لیکونه، بریښنالیکونه، او نور)، هغه یې چاپ کړئ او د پناه غوښتنلیک فورمې سره ضمیمه کړئ.

**-** که تاسو د خپلې کورنۍ سره یاست (د بېلګې په توګه ښځه، مېړه، ماشومان) او ټول د پناه غوښتنه کولو اراده لري، نو یوه اعلامیه کافي ده، او هغه فورمه ډکه کړئ چې د کورنۍ غړو ته په پام کې نیول شوې دي.

**-** کله چې اسنادونه چمتو شي، لاسلیک مه کوئ، وروسته یې په سفارت کې وکړئ.

## ۳- بیا په ټاکل شوي وخت کې سفارت ته لاړ شئ

**-** که تاسو غواړئ د خپلې کورنۍ له غړو سره د پناه غوښتنه وکړئ، هغوی هم باید له تاسو سره په سفارت کې موجود وي.

**-** سفارت ته وواياست چې تاسو د پناه غوښتنې لپاره راغلي یاست او تاسو لا هم د ملاقات وخت لرئ، په سفارت کې، دوی به ستاسو عکس واخلي، او تاسو باید ستاسو د اړیکو معلومات هم ورکړئ.

**-** تاسو باید خپل د هویت اسناد (د بېلګې په توګه پاسپورت، د هویت کارت، تذکره) او نور اړین اسناد (د بېلګې په توګه د زیږون سند، ستاسو د ماشومانو د زیږون سند) وړاندې کړئ، که تاسو داسې اسناد نلرئ، تاسو باید کوم بل سند وړاندې کړئ چې ستاسو هویت ثابتوي. سفارت به ستاسو د سپارل شوي اسنادونو کاپي اخلي.

**-** د پناه غوښتنلیک بشپړ شوی فورمه د سفارت د مسؤل شخص په مخ کې لاسلیک کړئ او هغه یې به هم ستاسو غوښتنلیک اخلي او لاسلیک کوي. کولی شئ له ملګرو یا غیر دولتي موسسو څخه وغواړئ چې د ژباړې په څانګه کې ستاسو سره مرسته وکړي.

**-** بیا سفارت ستاسو غوښتنلیک او نورو کاپي شوي اسنادونه د هنګري د مهاجرینو چارواک ته لیږي.

**۴-** که چیرې د مهاجرینو اداري **ستاسو غوښتنلیک ومني**، د لاسرسي معلومات کوم چې تاسو مخکې سفارت ته ورکړي (د مثال په توګه، د تلیفون له لارې) به **تاسو سره اړیکه نیسي** او تاسو به یې خبروي.

**۵-** له هغې وروسته، تاسو باید **د انټریو لپاره یو ځل بیا سفارت ته لاړ شئ**، کوم چې آنلاین یا د تیلیفون له لارې ترسره کېدای شي، د سفارت او مهاجرینو اداریې به د انټریو لپاره د ملاقات وخت تنظیم کوي، که اړتیا وي، تاسو ته به یو ژباړونکی درکړل شي

**۶-** د پناه غوښتنې اداره بیا د ارادې غوښتنلیک بشپړ شوی اعلامیه ګوري. **سفارت به تاسو ته خبر درکړي** که چیرې د پناه غوښتنې اداري هنګري ته ستاسو ننوتل تصویب کړي.

**۷-** که تاسو مثبت ځواب ترلاسه کړئ، تاسو کولی شئ هنګري ته سفر وکړئ، څکه چې تاسو د سفر لپاره اړین اسناد نلرئ، سفارت به تاسو ته د سفر ځانګړي سند درکړي.

**- کله چې د سفر اسناد چمتو شي، سفارت به تاسو ته خبر ورکوي، د خبرتیا ترلاسه کولو نه وروسته، تاسو د سند اخیستلو لپاره ۱۵ ورځې وقت لرئ**

**-** دا ځانګړی سند د **۳۰** ورځو لپاره اعتبار لري. دا هنګري ته د ننوتلو لپاره یو ځل کارول کیدی شي.

**۸-** که تاسو منفي ځواب ترلاسه کړئ،او ستاسو **د پناه غوښتنلیک رد شي** او تاسو ته **هنګري ته د راتلو اجازه نه درکول کیږي،** تاسو کولی شئ د پریکړې په وړاندې استئناف طلبي وکړئ.

- مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د استیناف موده، د رد ترلاسه کولو نیټې څخه **۳۰** ورځې ده.

- مهرباني وکړئ د قانوني مرستې لپاره موږ سره اړیکه ونیسئ (د هنګري هیلسنکي کمیټه

telefon: + 36 1 321 4323).email: helsinki@helsinki.hu

**۹-** که تاسو **هنګري ته د تګ اجازه ترلاسه کړې وي،** تاسو باید د سرحدي ساتونکو ته خبر ورکړئ چې تاسو غواړئ **هنګري ته د ننوتلو وروسته** د پناه غوښتنه کړئ. له دې وروسته د سرحدي ساتونکي په ( ۲۴) ساعتونو کې تاسو به د کډوالو دفتر ته وسپاري.

**۱۰-** تاسو باید د پناه غوښتنې اداري ته بیا اعلان وکړئ چې تاسو د پناه غوښتنه کوئ، بیا د پناه غوښتنې اداره ستاسو د کیس په اړه د پناه غوښتنې طرزالعمل د عمومي مقرراتو سره سم پریکړه کوي.

- دا چې تاسو ته د هنګري چارواکو لخوا هنګري ته د ننوتلو اجازه درکړل شوي ده، دا پدې معنا نه ده چې تاسو به په اوتوماتیک ډول په هنګري کې خوندیتوب یا د کډوال په صفت پیژندل شوي یاست.
په هنګري کې، د پناه غوښتنې د پروسې په پای کې، د پناه غوښتنې چارواک کولی شي مختلفې پریکړې وکړي: دوی کولی شي تاسو د مهاجر یا محافظت شوي شخص په توګه وپیژني (د مهاجر په توګه ومنل شي) یا دوی کولی شي ستاسو د پناه غوښتنه رد کړي.

که تاسو باور لرئ چې د پناه غوښتنې اداري ستاسو په قضیه کې غلط پریکړه کړې ده، تاسو کولی شئ محکمې ته لاړ شئ او د پریکړې په وړاندې عریضې وکړئ. په هرصورت، تاسو باید تل د چارواکو سره همکاري وکړئ.

**۱۱- که تاسو هنګري ته د ننوتلو وروسته د پناه غوښتنې اداري ته خپل د پناه غوښتنلیک وسپارئ، او په شخصي استوګنځي کې د ژوند کولو امکانات نلري،** د کډوالو چارواک، د واموش سابادي (ګیور ته نږدې یو کوچنی ښار) کې د استوګنې په مرکز کې ځای په ځای کړي.
تاسو باید پوه شئ چې قانون دا حق د کډوالو چارو ریاست ته ورکړی دی، کوم چې تاسو به د اعظمي ۴ اونیو لپاره په ټړل شوي ځای کې ځای په ځای کړي ، مګر دا کار تر اوسه په عمل کې ندي ترسره شوي.

که تاسو د پناه غوښتنې پروسیجرونو په اړه نور معلومات ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ موښر سره اړیکې ونیسي، زموږ پته: د https://helsinki.hu/ :(هنګري هیلسنکي کمیټه) د تیلیفون شمیره **+۳۶۱۳۲۱۴۳۲۳**

**په دې اړه قانونونه:**

د پناه غوښتنې د پروسې د څرنګوالي په اړه د کورنیو چارو وزارت فرمان 16/2020. (VI.17.)

د بیړني حالت پای ته رسیدو پورې اړوند قانون، او د ناروغی د حالت لپاره د چمتووالي قوانین LVIII سال 2020

د پناه غوښتنې قانون .LXXX د 2007 کال

د قانون پلي کولو په اړه .LXXX د پناه غوښتنې د حق په اړه د 2007 کال د حکومت فرمان (IX. 9.) 301/2007.

**او داسې نور معلومات:**

http://oif.gov.hu/index.php?option=com_k2&view=item&id=1576:az-altalanos-szabalyoktol-eltero-menedekjogi-kerelem-benyujtasanak-feltetelei-a-233-2020-v-26-korm-rendelet-ertelmeben&lang=hu